# د ارزاني خوېشکي په شاعرۍ کښې د جمهوریت ازانګې

# Concept of Democracy in the Poetry of Arzani Khweshkey

Dr. Asal Marjan (Muhib Wazir)★

**Abstract:**

Democracy is a concept which derived in mid 17th century, however in the form of as a system in the European society it became in the mid of 18th century. This concept is also present in the poetry of prominent and first Dewan holding poet Mulla Arzani Khweshkey, who lived in the 16th century.

In this article, it has been observed that what form of democracy exists with Arzani Khweshkey, how much is it compatible with European democracy and how much is it different from it?

Arzani`s concept of democracy as we know, is derived from the Pashtun cultural system, but presenting it in written form shows that the Pashtuns are a democratic-mined people and they have a lot to contribute to the word.

**Key words:** Concept – Democracy- Poetry- Arzani Kheshkey- Pashtuns- Contributions- Public- Ruling-Institutions

جمهوریت یو ځانګړے (مخصوص) نظام حکومت وي. خو دا باقاعده د یوې ټولنې د رویو نوم هم وي. ځکه چې د دغه نظام حکومت خصوصیات په ټولنه اغېز کوي او د هغې نه مونږ داسې وایو چې دا ټولنه جمهوري ده یا غېر جمهوري ده. جمهوریت د انګرېزۍ د ډېموکرېسي (Democracy) ژباړه ده چې د یوناني ټکي ډېموس (Demos) او کراتوس (Kratos) نه ماخوذ دے ، د ډېموس معنا خلق/اولس/تیمان ده او د کراتوس معنا د طاقت (حکومت) ده ، نو په دغه لحاظ د ډېموکرېسي (جمهوریت) معنا د خلقو طاقت جوړېږي ، د جمهوریت یو تت غوندې انځور هم د پینځه پېړۍ قبل مسیح نه د ایتهنز د ښار نه رانیول کېږي (۱).. د پېژندل شوي امریکني مفکر ابراهام لنکن (Abraham Lincoln) ډېر اورېدل شوي تعریف تر مخه:

★ Assistant Professor, Bacha Khan University Charsada

Government of the people, by the people and for the people.(2)

د خلقو د پاره د خلقو چوڼ کړے حکومت چې د خلقو وي (3) .

د جمهوريت د پاره انګرېزۍ د ډېموکراسي يا ريپبلک (Democracy or Republic) ټکي کارول کېږي. ريپبلک يعني جمهوريه ، دا د بادشاهت او امريت ضد ټکے دے ، عمومي توګه د هغه هېواد د پاره کارول کېږي چرته چې نظام جمهوري وي (4) حکمراني پکښې د يو بادشاه يا ملکه په لاسونو کښې نه بلکې د منتخبو خلقو سره وي (5) . جمهوريه (ريپبلک) د لاطيني ټکي (Republic) نه وتے دے چې د ريز (Res)معناد امر/کار يا حکم ده او د پبلک معنا د عامو/ټولو ده (6) ، يعني د ټولو حکم ، د ټولو امر ، د ټولو د شريکې کار. خو د ډېموکراسي (جمهوريت) لغوي معناوې اولسي حکومت ، د خلقو حکومت ، يا بيا د هغه نظام نوم ، د کوم تر مخه چې چوڼ شوي وکيلان (نمائندګان) واک ته رسي او د يوې ټاکلې مودې پورې حکومت کوي (7) . باقاعده سياسي ګوندونه پکښې موجود وي ، ټاکنې پکښې کېږي او په ټاکنو (انتخاباتو) کښې ګوندونه او اشخاص په بشپړه ازادۍ سره برخه اخلي . جمهوريت (ډېموکراسي) هم د لاطيني ژبې Dēmoskaratiā نه وتے دے چې د demos معنا د خلقو او karatia معنا حکومت کولو ده (8) . مطلب د خلقو حکومت يا د خلقو د حکومت کولو طريقه. د دواړو ټکيو يا اصطلاحاتو کښې لږ فرق موجود دے ، وړومبے خو لکه ځنګه چې مو بره ولوستل چې جمهوريت د يو نظام نوم دے او جمهوريه د هغه هېواد نوم دے چرته چې د جمهوريت نظام موجوديت يا اطلاق لري. دويم دا چې جمهوريت نېغ په نېغه د حکمران انتخاب کوي او جمهوريه کښې د وکيلانو (نمائندګانو) په ذريعه (9) يو حکمران/مشر/صدر/وزيراعظم ټاکل کېږي. خو په عام مفهوم کښې دا دواړه اصطلاحات زياتره په يوه معنا کښې کارول کېږي چې مقصد يې د خلقو د حقونو ، د خلقو د ستونزو ، د خلقو د سوالونو ، د خلقو د خواهشونو ، د خلقو د مايوسيو ، د خلقو د محروميو نه يوازې ادراک لرل وي ، بلکې د هغې د بشپړه حل کولو او خلقو ته انصاف ، حقوق او د ژوند نور ضرورتونه په وخت ور پوره کړي. جمهوري حکمران د

اولس په زور ولاړ وي ، جمهوري هېواد د اولس حقيقي ملکيت وي ، جمهوري نظام د اولس د رايو ترجمان وي.

جمهوري نظام باقاعده يو کلتور رامنځته کوي چې د مينې ، محبت ، يووالي ، پاسدارۍ ، د يو بل د خيال ساتنې او د يو بل د احترام کلتور وي. د قانون او آئين د حکمرانۍ کلتور وي چې هر څه پکښې د جمهور د منشا او مرضي او ګټو د پاره کېږي (10). دغه کلتور ته په وده ورکولو کښې مهم لاس د ازادۍ وي. ځکه چې په جمهوري نظام کښې د ليک او وېنا بشپړه ازادي وي ، د حرکت او عمل ازادي وي چې په پايله کښې يې په سوچ او فکر کښې پراخوالے راځي ، بشري شعور پرمختګ کوي ، شعوري پرمختګ سره ټولنه او هېواد هم مخ په بره (ترقۍ) روان وي (11).

جمهوري نظام د هر قسمه عقيدې ، مکالمې ، اشاعت ، مظاهرو ازادي او د بېلابېلو مذهبي او نسلي ګروپونو خپلواکي او د هر چا د پاره د قانون يو شان والے يقيني کوي او دا هر څه چې په يو نظام کښې سره راغونډ شي نو هغه بيا يو افاقي قدر وګرځي (12). جمهوريت په ننني نړۍ کښې يو افاقي قدر ګرځېدلے دے چې د ازادۍ يو علامت ګرځېدلے دے. دا نظام اولسونو ته د خپلو حقونو د پاره د مبارزې لار ورکوي او د يو پرامن ماحول په ترڅ کښې د خپل وجود او پېژندګلو يوه وسيله ګڼله شي. جمهوري حکومتونه د شخصي او ډکټېټرشپ ضد نظام وي. دا د خلقو فېصله وي چې د خلقو د پاره وي.

پښتو ادب کښې روښاني غورځنګ د يوې داسې مهمې چينې کردار ترسره کوي چې له دغه ځايه زمونږ د ټول پښتو ادب اوبه خور روان دے. د دغه دورې مثال زمونږ د پاره بېخي داسې دے لکه د انګلېسۍ يا د نورو اروپايي هېوادونو د ژبو يا ادبياتو د پاره د يوناني يا لاطيني ژبو دے. پښتو ادب کښې چې هره کومه موضوع محققين لټوي ، نو د روښاني دورې روايت يې په پام کښې ضرور ساتلے وي. ځکه خو مونږ هم د جمهوريت يا جمهوريه د پاره د روښاني دورې اهميت له پامه غورزولے نه دے. ټولو روښاني شاعرانو کښې د جمهوري رويو/کلتور څرکونه ځاے په ځاے ضرور ليدل

کېږي چې په خپل وخت به په هغې هم بحث وشي ، خو دا مهال مونږ د ملا ارزاني یا ارزاني خوېشکي په شاعرۍ کښې دغه څرک او درک ګورو.

ملا ارزاني ( ۱۰۲۸ھ ـ ۹۲۹ھ ) (13) چې د نوم نه یې ښکاره ده ، په بنیادي توګه یو مذهبي انسان وو او بیا د مذهب په دایره کښې د تصوفي فکر کلک علمبردار پاتې شوے وو۔ د بایزید انصاري (پیر روښان) اول مرید او وروستو بیا خلیفه هم شو۔ خو د تصوف سره سره د هغوي په شاعرۍ کښې داسې ګڼ موضوعاتو شتون دے چې د نوي سائنسي دور سره بشپړه سمون خوري.

جمهوریت چې د اتلسمې پېړۍ راسې یې په نړۍ کښې په ښکاره ډول سر راپورته کړے دے ، هم د ملا په شاعرۍ کښې داسې نمونې په لاس راتلې شي چې د روښانیانو د تحریک ټول ویژن د سړي په ذهن کښې منقش کېږي.

د ملا ارزاني یو مکمل نظم (در بیان بادشاه و رعیت) ټول ټال په دغه موضوع لیکل شوے دے چې دلته یې زیاتره برخه نقل کوم:

رعیت بېخ دے بادشاه ونه درخت سخت له بېخه بنه
رعیت د بادشاه ولیې د خپل بېخ ولیې مه کنه

بادشاه درخت رعیت بېخ دے شاه خېمه رعیت مېخ دے
چې رعیت ازاروینه دین یې نشته شیطان سېخ دے

رعیت د شاه رمه دے دے نیولے په همه دے
د حشر په ورځ نیولے د رعیت په مظلمه دے

رعیت د بادشاه غیلېو هر شه ته یې کړې وسیلې
په قیامت له هره شهه حق پښتنې وکا بېلې

هـر بادشاه چې په تحت سو کا په رعیت بنا حق زور کا
هـم يې زور به يې سور اور شيږد ده ځاے به دغه اور کا
(د ارزاني خېشکي کليات: ۶۲۰ـ۶۲۲)

دغه نظم کښې مونږ د ملا ارزاني د سوچ او فکر هغه انداز محسوسوو چې بادشاهت د پاره يې کوم اصول ټاکل غوښتل. دلته ارزاني د بادشاه ټکے صرف په دې معنا راوړے دے چې د هغه په وړاندې د رئيس جمهور يا صدراعظم (وزيراعظم يا صدر) د نومونو کوم مثال نه وه ، ګني نور که وکتے شي چې د رئيس جمهور د پاره يا د يو جمهوري حکمران د پاره نن سبا کوم څه وئيل کېدے شي ، هغه ارزاني خوېشکي څلور سوه کاله د مخه وئيلي دي.

اولس مشر/حکمران (بادشاه) د خپل رعيت په اساس مشر شوے دے ، اول ساده خبره خو دا چې که دا رعيت نه وے ، نو بيا د بادشاهت او حکمرانۍ يا مشرۍ به په چا کېدله؟ او دويم دا چې د يوې سيمې/خاورې/هېواد اصل ولي وارث خو اولس دے. بادشاهان/حکمرانان خو په تاريخ کښې د يرغلګر/بريدګر په صورت کښې او نن سبا خو زياتره (په وړو او د پرمختګ په لار روان [ترقي پذير] هېوادونو کښې ) په چټريو کښې راکوز کړل شي. نو ځکه ملا ارزراني د خاورې/هېواد حکمرانانو ته دا ښيئ چې که تاسو د خپل اولس د رايو ، حقونو ، د معاشي او ټولنيز انصاف غم ونه کړو نو ستاسو جرړې (وليې) به کمزورې شي او ستاسو د شان او شوکت دا غټې غټې ونې (درختې) به راولوېږي. دلته که خيال وکړو نو ملا ارزاني رعيت (اولس) يادوي يعني هغه کوم مسلمان يا هندو نه يادوي ، د دې واضح مطلب دا شو چې تش مسلمان (مسلمان رعيت) د بادشاه جرړې نه دي بلکې اولس ، هغه چې د کوم مذهب هم وي. دلته د ارزاني خوېشکي سره د جمهوريت اصل تصوير ، څه ته چې مونږ رواداري وئيلے شو ، زمونږ مخې ته راځي. ځکه چې د جمهوريت (اولسواکۍ) تر ټولو مهم توکے د ذات ، رنګ ، نسل ، مذهب نه پورته ښهريت (Citizenship) ورکول دي (14). د يو جمهوري هېواد د پاره دا هغه اساسي توکے دے چې د ټولنيز ژوند د پرمختګ

عمارت وربانديې ولاړ دے ۔ رواداري ، زغم ، برداشت که په یوه ټولنه کښې وو ، نو هغه په ټولنیزو ، سیاسي او اقتصادي لارو چارو کښې پرمختګ یقیني کولے شي ۔
پورتني نظم کښې ملا ارزاني د اولس زور او د اولس اهمیت د بېلابېلو اړخونو نه د مثالونو په ترڅ کښې راښکاره کوي ۔ کله يې د ونې جرړې يادوي ، کله يې د خېمې مېخونه بولي او کله يې رمه او بادشاه د دې رمې شپون ګڼي ۔ دا د خېمې او مېخونو مثال يې ډېر حېرت انګېز دے ۔ خېمه (بادشاه يا بادشاهت) که ډېره هم غټه او شانداره عاليشانه وي خو چې مېخونه (اولس) يې کمزوري وي ، نو د حالاتو د نري باد او باران او سيلۍ مقابله نشي کولے او که مېخونه يې ټينګ ، مضبوط او غښتلي وي نو هغه د هر قسمه سياسي او جغرفيايي حالاتو مقابلې ته ټينګ ولاړ وي ۔
يو بل ځاے کښې وايي:

ونـه تل له زړي وينـــه په دا زړي د درخت مينه
چې مينـه شــي له زړي سر راهسک کا له زمينه

(د ارزاني خېشکي کليات: ۴۷۵)

دغه بند کښې د ستر انسان ، لوړ انسان ، کامياب انسان يا مشر يا حکمران د پاره بيا د ونې مثال ورکوي چې ونه هله د زمکې نه خپل سر پورته کوي کله چې د خپل زړي نه وصلت واخلي ، د خپل تخم سره مينه ولري او د خپل اصل سره پېوست شي ۔ هغه انسان/حکمران/بادشاه د ترقۍ او عروج بام ته رسېدے شي چې د اولس سره پېوست وي ، د اولس په ستونزو خبر وي او د اولس د خواهشونو ترجمان وي ۔
يو بل ځاے کښې د يو مشر د پاره د ونې مثال په يو بدل انداز کښې وړاندې کوي:

ونــه وزبــړي لـه بــاره له دغ باره شي بارداره
دا چـــې ځي پورته سفر کا د دې خپل تخم د پاره

(د ارزاني خېشکي کليات: ۴۷۸)

دغه بند ته که په ژور نظر وکتے شي نو ابراهام لنکن هم دغه خبره (of the people, by the people and for the people) کړې ده چې د جمهوريت د تعريف په لړ کښې تر ټولو زياته او مضبوطه حواله ګڼله شي کومه چې مونږ هم د دې مقالې په سر کښې

راوړي ده. جمهوریت د رایې د اظهار ازادي او خپله مدعا په هر صورت بیانولو ته هم یوه لاره پربږدي ، لاندینۍ بیتونو کښې مونږ دغه خوا ته یوه داسې اشاره په لاس رائحي چې ارزاني د یوې داسې ټولنې فرد جوړېدل غواړي چې د خپلې رایې مخې ته راوړلو مکمل علمبرداره وي:

د ارزانـي وېنا ده ښکلـې له زړګي یې د وکښلې
دا د ګوي مګوي خبرې‌په کاغذ باندې یې کښلې

(د ارزاني خېشکي کلیات:: ۴۸۲)

د ګوي مګوي خبرې په کاغذ باندې کښل یا د زړه خبرې کول د بیان او رایې په ازادۍ دلیل دے. په نننې نړۍ کښې هم چې د جمهوري نظام نړۍ بلله کېږي ، د رایې د ازادۍ د پاره ډېري اولسونه ترسېږي او نشي کولے چې د ګوي مګوي خبرې په جار وکړي.

یو بل ځائے کښې چې ملا ارزاني کله دا وايي:

په یوه دریاب کښې غرق دے جنوب شمال که غرب شرق دے
په هر چا کښـــې دے یو اصل په نامه کښې شوے فرق د

(د ارزاني خېشکي کلیات: ۹۳۰)

نو ګویا دا پېغام راکوي چې انسانیت د یو اصل نه دے. د انسانیت ستونځې ، غوښتنې او خواهشونه اکي یو شان دي. ګویا انسان د رنګ ، نسل ، مذهب ، ژبه ، قام ، قبیله او صنف کښې نشي سره بېلېدے. دا تش نومونه دي ، نور د انسانیت حقونه او ضرورتونه یه یو رنګ دي. جمهوریت هم د ژوند یا د ملک/هېواد داسې نظام دے چې د ټولو وګړیو حقونه یو رنګ مني او تسلیموي.

بونرا همج په یوه رنګ دي الواته یې په دوه رنګ دي
پر معشوق سره ناساز شودا دوي تل سره په جنګ دي

د بـونرا حب دے له ګله د همج له ګنده ګله
د هر چا خپله چار خـوښه ځکه تل کا سره کله

(د ارزاني خېشکي کليات:

۶۹۱ـ۶۹۰)

دغو شعرونو ته په کتو سره د ارزاني د جمهوري سوچ نور هم ډېر واضحه کېږي. د هر ځو بونړا او ګونګټ د يو اصل نه دي ، که هر ځو تړول وګړي د يو اصل نه دي ، د يو نسل ، د يو رنګ ، د يو قام ، د يوې قبيلې ، د يو خاندان او د يو کور نه دي ، ولې د هر چا خپله خوښه وي او هر ځوک د سوچ او فکر او نظريې پلوي دے. دلته د جنګ معنا هېڅکله د تورې او د سنګر جنګ نه ده بلکې د اختلاف په معنا کښې دے او هر کله چې د په دې دعا د خېر وشي چې د هر چا خپله چار خوښه ، نو بيا يې کلے سره کېږي ، بيا يې وخت سره تېرېږي او تړولنه په امنيتي ډول په جمهوري نظام کښې سره چلېدے شي. زما په خيال دا ډېر مترقي سوچ دے چې د ارزاني سره موجود دے.
د ملا ارزاني په شاعرۍ کښې که څه هم د تصوف نه پرته د نورو موضوعاتو کمے دے ، خو پورته ذکر شوو ځو حوالو په ترڅ کښې ولسواکۍ/جمهوريت ته د يو ژمن انسان او د يو ژوندي ، ګړندي ، په سياسي او ټولنيزو معاملاتو کښې د يو با کرداره او فعاله وګړي په توګه خپل ځان راپېژني. د يو داسې ادب تخليقار په صف کښې ځان دروي چې شعر کښې د مرګ په ضد د ژوند انګازې اورېدل کېږي ، قلم ، هنر او علم يې د هغو قوتونو په ضد چړې هم نه دے اودرېدلے چې د بشري حقونو مرۍ خپې کوي (15).
د تفکر او د ژوند د حقيقتونو رڼا خوروي چې نه يوازې بادشاهانو/حکمرانانو ته پېغور ورکوي بلکې اولس ته هم د ازادۍ جذبه او حرکت او بې قرارې او بېدارې وربخښي چې نور خوبونه به د مرګ علامت وي (16). د ملا ارزاني د دې حوالو نه د روښانې غورځنګ ټول پس منظر هم د لوستونکي په ذهن ته راځي چې په کوم رنګه صورتحال کښې دا غورځنګ راپاڅېدلے او د څه د پاره چلېدلے دے.

## حوالې:


1. G. A. I. Nwogu, Democracy: Its Meaning and Dissenting Opinions of the Political Class in Nigeria: A Philosophical Approach, Journal of Education and Practice, Vol:6, Issue:4, 2015, p.131, https://files.eric.ed.gov>
2. Dickson College, Definition of Democracy, (August 1, 1858), Lincoln`s Writings, Acc date:23/07/2023
3. ژباړه د قلندر مومند ده چې د جمهوریت د معنا په ترڅ کښې یې مخې ته راغلې ده . ـــ قلندرمومند/فریدصحرائي ، دریاب ، پېښور ، پښتونخوا ټېکسټ بک بورډ ، ۱۹۹۴، مخ:۴۵۲
4. هم دغه: ۴۵۲
5. Republic, Definition of Republic, by the Oxford English Dictionary, Retrieved 10/05/2022, Acc date:23/07/2023
6. اریانا دایره المعارف ، دریم ټوک ، د افغانستان ، د علومو اکاډمي د دایره المعارف د مرکز ریاست ، ۱۳۸۹ش (۲۰۱۰ع) ، مخ:۱۱۵
7. دریاب:۴۵۲
8. --- Britannica.com/topic/democracy, http://www.britonnica.com 8/3/2020
9. or republic https://www.britannica.com--topic/democracy searching date: 8/4/2020
10. سلیم راز ، یقین ، پاکستان ، انجمن ترقی پسند مصنفین ، ۲۰۱۶ ، ص:۷۰
11. هم دغه ، ص: ۷۷
12. لیری ڈائمنڈ ، جمهوریت کی روح ، ترجمه:اعزاز باقر ، پاکستان ، اداره فروغ قومی زبان ، ۲۰۱۲، ص:۳۳
13. خوېشکے ، پروېز مهجور ، ډاکټر ، د ارزاني خوېشکي کلیات ، پېښور ، پښتو اکېډېمي پېښور یونیورسټي ، ۲۰۰۵ ، :مخونه:۶۳-۶۱
14. رضوی ، حسن عسکری ، ڈاکٹر ، جمهوریت انسانی حقوق اور ترقی ، مشموله: انتها پسندی کے خاتمے کیلئے رواداری،دلیل پسندی اور انسانی حقوق کی تعلیم کی اهمیت ، پاکستان کمیشن برائے انسانی حقوق (HRCP) ، اپریل ۲۰۱۶ ، ص:۲۴۶
15. صدیقی ، محمدعلی ، داکټر ، جهات ، کراجی ، ارتقا مطبوعات ، ۲۰۰۴، ص:۳۲
16. جمال نقوي ، ادب سائنس او جمهوریت ، کراچي ، اداره تزئین دانش ، جولائی ۲۰۰۴، ص:۳۹۳

References

1. G. A. I. Nwogn, Democracy: Its Meaning and Dissenting Opinions of the Political Class in Nigeria: A philosophical Approach, Journal of education and practice, Vol: 6, Issue 4, 2015, p.131. Available on https//files.eric.ed.gov
2. Dickson College, Definition of Democracy, (August 1, 1858) , Lincoln's writings, Acc date: 22/08/2023
3. Qalander Momand/Fareed Sahrai, Daryab, Pekhawar, N.W.F.P. Text Book Board, 1994, p. 452
4. do
5. Republic, Definition of Republic, by the Oxford English Dictionary, Retrieved 10/05/2022
6. Ariana Dayratul Maarif , 3rd volume, da Aghanistan d olomo Academy, da Dayratul Maarif da Markaz Riasat, 1389 (2010) , p.115
7. Daryab, p.452
8. https//www.britonnica.com---Britonnica.com/topic/democracy, Acc date, 08/03/2020
9. https//www.britonnica.com--- topic/democracy or republic , Acc date: 08/03/2020
10. Salim Raz, Yaqeen, Pakistan, Anjuman Taraqi Pasand Mussanefeen, 2016, p.70
11. do, p. 77
12. Lerry Daimond, Jamhoriyat ki Roh, Tarjmuma, Izaz Baqir, Pakistan, Idara Feroogh Qomi Zuban, 2012, p. 33
13. Khweshki, Parwez Mahjoor, Dr. da Arzani Khweshki Kulyat, Pekhawar, Pakhto Academy Pekhawar University, pp. 61-63
14. Rizvi, Hasan Askari, Dr, Jamhoriyat Insani Huqooq aur Taraqi, mashmola: Intehapasndi ky Khatme Keleye Rawadari Daleel aur Insani Taleem ki Ahmiyat, Pakistan Commission barsye Insani Huqooq (HRCP) , April 2016, p 246
15. Sadiqi, Muhammad Ali, Dr, Juhhaat, Karachi, Irteqa Matbuaat, 2004, p 32
16. Jamal Naqvi, Adab Science aur Jamhoriyat, Karachi, Idara Tazzaien Danish, July 2004, p 393